# سيد شاه سعود

غزل

زماني يې تل په لاس کې د تسبو پشانتې ګرځي
يو سړی دی د سپيڅلو فرښتو پشانتې ګرځي

د بلبلو په سندرو چې بنديز لګوي خلک
... د ګلونو وږمې هم بيا د ازغو پشانتې ګرځي

ته همزولو سره خاندې ای په ځان باندې مينې
يو هلک دې لټوي د ليونو پشانتې ګرځي

چاته زخم ورکوي چاته پرهر او چاته سرېکې
ستا نظر په ټول عالم کې د نيزو پشانتې ګرځي

دا صحرا ده شاه سعوده ستا د کلي کوڅه نه ده
دلته زرقې د بدرنګو جينکو پشانتې ګرځي

## غزل

هیڅ په ښه باندې را نشي هسې خوارې شي سندرې
چې زما قلم ته راشي ګنهکارې شي سندرې

... د شرابو په کاسه کې د لمبو غوندې بلېږي
بلا خوند پکې پیدا شي چې بیلارې شي سندرې

د چا سترګې مې په روح کې سیلابونه زمزمه کړي
چې سپوږمۍ په راختو شي نو بیدارې شي سندرې

تخیل نه مې ناڅاپه څه بیکیفه شي چاپیره
سمدستي په نیمه لاره کې ایسارې شي سندرې

چې بې مینې بې الفته زندګی ته مخامخ شي
نو شعرونه شرمخان شي او ښامارې شي سندرې

د دې کلي هر سړې په قصیدو باندې مېین دی
مخ ترې واړوي سعوده چې هندارې شي سندرې

## غزل

زما د قام ختبه کې ستوري اغږلي وو تا
اسمان مو ځای و خو په مزکه کې شیندلي وو تا

راسره حوا کې د سجدو پاکه رڼا وسیده
... لکه د سترګو د تندي لاندې ساتلي وو تا

په کومه ورځ دې چې لاسونو جې ژوندون راکوو
هم هغه ورځ باندې جانانه مونږ وژلي وو تا

دا بدرنګۍ پکې بینوره آینو پیدا کړې
ښکلي وو ځومره تصویرونه چې کاږلي وو تا

په بی نیازۍ دې استغنا وه ډالۍ کړې راته
چې د نرګسو باغیچې ته رابللي وو تا

میني نه واخله تر عرفانه پورې هر څه چې وو
نه به یې ما حساب کولو نه شمارلي وو تا

سترګو کې هر څه د جانان دي ته خبر يې که نه ؟
ستوري هم بيرته راروان دي ، ته خبر يې که نه ؟

دا جينکۍ چې دلته راغلې د بابا مزاره
د دوی پر زړونو هلکان دي ، ته خبر يې که نه

## غزل

اوښکې ځلانده وې ځلا کې ستورو څه کړای وای
تیاره خو نه وه په رڼا کې ستورو څه کړای وای
خدای ته جانانه ستا د سترګو نه نږدې خو نه وو
قبوله نشوه په دعا کی ستورو څه کړای وای
... چی پښو د لاندې راته ځمکې اداښه رانه کړه
نو سر د پاسه په هوا کې ستورو څه کړای وای
د رونو شپو دغه ملګرې مې بلا مجبور وو
بقا چې نه وه نو فنا کې ستورو څه کړای وای
سعوده هسې ګیله مند یې ترېنه فکر وکړه
د لمر د سترګې په دنیا کې ستورو څه کړای وای

څاڅکي لټومه په سيلاب کې رانه ورک شولو
حسن د حمزه بابا کتاب کې رانه ورک شولو
خدايه څنګه راز و چې له ځانه يې جدا کړمه
ګل کې مې مونډلې و حباب کې رانه ورک شولو
... غم راسره پاتې شو خندا راسره پاتې شوه
زړه مې ستا د سترګو په درياب کې رانه ورک شولو
وس به مې د مينې پريشانه سجدې څه کوې
لاړلو تندې خو په ومحراب کې رانه ورک شولو
مينه واي شته دي خو په سترګو کې ځايېږی نه
عقل وايي و خو په حساب کې رانه ورک شولو

## د سيدشاه سعود شعرونه

ستا په خبرو باندی هيڅ نه کيږی
که چا ته ستوري او سپوږمۍ ووايې
چاته ګلاب چاته کلۍ ووايې
ستا په خبرو باندی هيڅ نه کيږي
ستا په سندرو باندی هيڅ نه کيږي
... که دې رڼا ورځې ته شپه ووايې
تورې بلا ته فرښته ووايې
ستا په اقرار باندې څه نه بدليږی
ستا په انکار باندې څه نه بدليږی
ښکلا،ښکلا ده که منې يې که نه
رڼا،رڼا ده که منې يې که نه

**چې ترینه سپک وي تش هغه د اوبو سر ته راشي**
**دا هر څه بس هم دغه نه وي چي نظر ته راشي**
**د شپې مخونه د چا نه وې خو چې ورځ خپره شي**
**رنګونه واغوندی رڼا سره منظر ته راشي**
**... چې لمر ډوبیږی زه به هم ورسره سم پورته شم**
**سحر دې نه راځي اجل دې مازیګر ته راشي**
**سپوږمۍ د ستورو څوکیداره ده خو وس نه لري**
**ستوري د شپې نه راپه منډه شي سحر ته راشی**
**لږ وخت به اخلی انتظار وکړه نور هیڅ مه کوه**
**جانان به خپله مبتداء ځیني خبر ته راشي**
**سعوده مینه وکړه ،مینه وکړه ،مینه وکړه**
**صدق چې لاره کړې نو څاڅکي به ګوهر ته راشي**

## زما د فکر هره لاره بس هم تا پیژني

... ما به راډیو ته خپل شعرونه لیږل
په هره دویمه دریمه ورځ به مې عکسونه باسل
چې مجلو ته یې غزل سره ورولیږمه
په ټیلیوزن کې مې هم بلا ملګري لرل
چې ادبي پروګرامونو ته بلنه راکړي
خلکو به وی چې دی شهرت لپاره هر څه کوي
او په رښتیا مې هم شهرت لپاره هر څه کول
د ډیرو خلکو مې بی ځایه تعریفونه کول
د مجلو په مالکانو مې ډالۍ ویشلې
او په ورځپاڼو کې مې هسې بیګارونه کول
خو حقه دا ده اشنا
چې زه شهرت باندې مېین نه ومه
ما خو به ستا سپیڅلي حسن نه الهام اخستو
او ته په ستر وې له کوره باهر نه راوتې
زما وړې خور به دې مور سره سبق وایلو
هغې به ټولې مجلې در وړې
او بیا به ما ته په شیبو لګیا وه
چې نن دې شمعې راته داسې ویل داسې ویل
بیا یوه ورځ ناڅاپه زه د ټول جهان باچا شوم
مور راته وویل چې شمعې کره تلې ومه
د هغې لاس مې درله وغوښتلو
او مبارک شه مبارک شه مبارک شه زویه
د هغې مور راله حلوه پخه کړه
اوس مې شعرونه ټیلیوزن باندې نه خوریږي
راته ملګري ایمیلونه کوي
وایی چې مړه ته خو داسې ګوښه شوی یې چې
خلک دې شعر پسې ړندیږي او څه نه رالیږې
اوس مې د فکر غزونو استغنا موندلې
ستا له جماله طبیعت ته نوې لاره لرم
نه په شهرت باندې مېین یم نه هنداره لرم
وس هم غزل لیکم اشنا خو درلیږمه یې نه
ناچاپه ښه دي بس همداسې چاپومه یې نه
یو وخت به راشي چې هنر به مې دنیا پیژني
خو حقه دا ده چې شهرت باندې مېین نه یمه
زما د فکر هره لاره بس هم تا پیزني

## غزل

ستړګې مې سکرو ټکې دې لمبې راسره مه کښېنه
وبه سوزې اور يمه نژدې راسره مه کښېنه
لاړ شه اول سترګې چانه پور کړه بيا راګوره
داسې بې نظره بې نامې راسره مه کښېنه
... ګل شه پسرلې شه چې ژوندون درځينې زده کړمه
چوپ شه لکه د قبر د لوحې راسره مه کښېنه
ځان راته ظاهر کړه چې څه ښه لرې څه بد لرې
پاک لکه د نور د فرښتې راسره مه کښېنه
وخته هماله شه چې دې دنګې څوکې سر کړمه
پاسه تن اسانې زمانژ راسره مه کښېنه

## غزل

بیګاه په خوب کې یو ماشوم راله پیغام راوړی
چې مو د کلي نه چا ورځ وړې ماښام راوړی
الله دې خیر کړي چې سرو شه مرثیې راکوی
جانانه مړو سترګو دې څه رنګه الهام راوړی
... هسې نه ستا د قد الف ورسره مرسته وکړی
راله دې زلفو اننګو د پاسه لام راوړی
تاته چې نه ښکارم نو زه په دې کې وکړمه
ما خو نظر درله وجود سره تمام راوړی
سعوده ستا د غم وسعت ورته معلومه ښکاري
چې سمندر درله څپې،څپې سلام راوړی

**هغه ته خو نه وې**

**هغه مې روح هغه مې ساه وه هغه ته خو نه وې**
**هغه څلور کنجه دنیا وه هغه ته خو نه وې**
**هغې پر ځای د اندامونو سره ګلونه لرل**
**هغ ښکلا،ښکلا،ښکلاوه هغه ته خو نه وې**
**... هغه به ستا پشانتې خیال د خلکو نه ساتلو**
**هغه له هر څه مبری وه هغه ته خو نه وې**
**ته خو تیاره،تیاره،تیاره یې تروږمۍ دې کړمه**
**هغه رڼا،رڼا،رڼا وه هغه ته خو نه وې**
**هغه جینۍ چې ستا وجود کظ به یې سا اخیسته**
**هغه د تا ځینې جدا وه هغه ته خو نه وې**

وخانده موسکي مې کړه جانانه ستا په لاس کې يم
مړ يمه ژوندی مې کړه جانانه ستا په لاس کې يم
ما له دې د سترګو نه ورکوټې دنيا راکړله
راشه پکې ځاې مې کړه جانانه ستا په لاس کې يم
... خلکو له به خوب کې اشارې د مينې ورکړمه
شپه ده اوسويلې مط کړه جانانه ستا په لاس کې يم
روغ په محبت کې څوګ منزله پورې نه رسي
شابه ليونی مې کړه جانانه ستا په لاس کې يم
ته واې چې دغسې ماشوم راسره پاتې شه
زه وايم زلمی مې کړه جانانه ستا په لاس کې يم

## یو خوا حسن بلخوا کرکه

نن سهار مې خپله مزکه
ټیلیوژن کې لیدله
چې له لمره تاویدله
... تکه شنه وه رنګینه وه
له سپوږمیه ښایسته وه
ورکتل مې ورکتل مې
په لیدو نه مړیدمه
د رنګینو پلوشو په
تماشو نه مړیدمه
چې ناڅاپه ټیلیوژن
کې یو نوی خبر راغلو
بره مزکه څلیدله
لاندې کرخه تیریدله
پیښور کې د چاودنې
د یو کس د ځان وژنې
د ځلویښتو شهیدانو
د ځوانانو ماشومانو
مزدورانو خبر راغلو
د یو نیم سلو کسانو
د ټپیانو خبر راغلو
بیا چې بل چینل ته ولاړم
نو عکسونه وو د مړو
د پری شوو اندامونو
د ګلونو ګلابونو
شنه لوګي وو او لمبی وې
وینې هر خوا ته خورې وې
یو خوا دومره ښکلې مزکه
بلخوا دومره ډیره کرکه
ددی دواړو تضاداتو
په تړون نه پوهیدمه
د هندارو طبیعت کې
په بدلون نه پوهیدمه
بیا له سترګو مې د اوښکو
یو بهیر و بهیدلو
نور مې هیڅ کولی نشول
بس زړګې مې دردیدلو

**غزل**

**چې راګورې په ما باندې پوهيږي**
**هغه کس په کېميا باندې پوهيږي**
**لمر د شپې په تور لحد کې لا ژوندې دي**
**شمع بله کړه رڼا باندې پوهيږي**
**... هر يزيد د اهرمنو مبلغ وي**
**هر حسين په کربلا باندې پوهيږي**
**څوک چې نيشت نه دغه بل طرفته اوسي**
**هغه رسي په دنيا باندې پوهېږي**
**شاه سعود لا د فطرت نه لرې نه دی**
**ستا د سترګو په املا باندې پوهېږي**

تورو سترګو دې د غم سره اشنا کړم
څه غرض خو به دې وې چې دې جدا کړم
ستا د حکم د تعمیل غرض پوره شي
که موسکا کړم که خندا کړم که ژړا کړم
... ځان وژنه به مې ستا ذمه واري وي
مصوره که په بوت کې دې فناه کړم
زمانه دې د زندان په رنګې راکړه
رنګ دې وس کړو نور دې وس کړو زه دې بيا کړم
څه چې نه يم نو هم ستا په خوښه نه يم
څه چې يمه بس جانانه بس هم تا کړم
دا دنيا مې تاته پريښوده سعوده
زه به ځان له چرته بله راپيدا کړم

www.sikaraam.com

**ليونتوب**

**سترګي يو ځای کې پرتې وي**
**ژبه بل ځای کې پرته وي**
**نه څه وي او نه څه نه وي**
**بس وره شانتې شېبه وي**
**... کله کال شي کله ورځ شي**
**کله تکه سره غرمه شي**
**چې وجود مې په قيام شي**
**نو تندی مې به سجده شي**
**چې تندي پسې روان شم**
**نو لاسونه رانه هير شي**
**چې لاسونو پسې ګرځم**
**نو د زړه دوران مې تير شي**
**کاڼي خاندي بوټی خاندي**
**هر څه ماته په خندا وي**
**نه مې ورځ وي نه مې شپه وي**
**نه تياره وي نه رڼا وي**
**کله سيند سره روان شم**
**ورته خاندم ورته ژاړم**
**کله کاڼو ته ولاړ يم**
**ترېنه خپله څهره غواړم**
**کله وايم چې ولي يم**
**کله وايم چې حيوان يم**
**کله ځم او رانه هير وي**
**چې دا څه پسې روان يم**

**غزل**

**سترګو پسې نه ځم که اسمان راته راوښايي**
**بل به هله وینمه چې ځان راته راوښايي**
**ویښ چې شم دیدن یې تر ګلونو پورې وکړمه**
**خوب کې رانه پټ شي ماشومان راته راوښايي**
**... کله هم چې هيلې پلوشي له ځانه وځندي**
**ستا په شانتې ښکلي یو جانان راته راوښايي**
**حسن مرغلره شي خپل ځان سره مې وتړي**
**مينه آئينه شي ټول جهان راته راوښايي**
**لمر چې رانه پټ شي او سپوږمۍ راته روښانه کړي**
**بيا د نوې ورځې یو امکان راته راوښايي**
**بيا به هم سعوده مشکلاتو سره مخ یمه**
**ژوند که څوک ددې نه هم اسان راته راوښايي**

**یو ظالم ښکاري ته**

**هغه چې زرکو ته دې دام ایښې ؤ**
**هغه خو ټولې درنه والوتلې**
**د زاڼو لوړ تندې ته نه رسیدې**
**د هسک همزولې درنه والوتلې**
**... ایلۍ ګوزار نه مخکې پورته شوله**
**کونتر خطا شو چې ګوزار دې وکړو**
**او چې بلبله درنه بچ لاړله**
**نو په کنځلو شوږ ازار دې وکړو**
**بیا چې د باز پلو دې وکتل نو**
**زړه کږ دږ راغلل ګوزار عبث دې**
**چتو له راغلې خو ناکامه لاړې**
**ورو شان دې ووې چې دا کار عبث دې**
**ښکاري په هیڅ درنه خپه نه یم خو**
**دا د مرغۍ بچی دې څه له ویشتو**
**ده خو لا غشي لینده نه پېژنده**
**دی خو ماشوم و دی دې څله له ویشتو**

**خلکو ځان نه لرې مقاماتو کې ساتلی يې**
**ما د خپل وجود په کائناتو کې ساتلی يې**
**عقل مې د حسن د هنداريې نه ورکوټي دی**
**ځکه مې جانانه په جذباتو کې ساتلی يې**
**... ځمه چې مسکا نه دې اسانه لاره زده کړمه**
**اوښکو خو بې حده مشکلاتو کې ساتلې يې**
**وګوره د ژوند هره شېبه يې زهرجنه ده**
**چا چې ته په قندو په نباتو کې ساتلی يې**
**زړه مې دې مرکز دې لکه شمع چې روښانه وي**
**سترګو ترې چاپيره په حالاتو کې ساتلی يې**
**تا هم ورله مينه مصنوعي غونده ورکړې ده**
**ته يې هم سعوده ممکناتو کې ساتلې يې**

**دعا کومه چې سپوږمۍ رانه د ستورو نه شي**
**ستا نا ليدلي اداګاني مې د نورو نه شي**
**سترګي د ورځې وي شپې خو تش زړګې درزيږي**
**دا معامله چرته د سپينو او د تورو نه شي**
**... د لمر قاتلو پلوشو رانه زړګې وړې دی**
**راسره وارنه مې په سر باندې د سيورو نه شي**
**د آئينې په لوري مه ګوره چې زه در ګورم**
**دا دوه رخساره دې په برخه د څلورو نه شي**
**د پاکې مينې سائبان لري پروا نه ساتي**
**دا شين آسمان هم که سعوده د سرتورو نه شي**

**غزل**

**وخته یوه بله شيٍبه راولې شيٍبې پسې**
**څوګ درنه ورک شوې دي چې ځې پسې راځې پسې**
**وخت به راشي ځان به پکې ووينم کامل به شم**
**مخ به ګروځومه ستا د سترګو آئېنې پسې**
**... اوښکو مې وجود لکه لښکر له منځه يوړلو**
**ما د غنيمت يې راټول کړی ۇ حملې پسې**
**هر څه مې د حسن تر امکانه پورې وليدل**
**راز مې د ګل وموندو چې ټيټ شومه سجدې پسې**
**زه لکه اوبه د غره لمني ته روان ومه**
**خلک بره څوکې ته ختل مقابلې پسې**
**چغې مې وهلې چې الف مې دې په ياد کړلو**
**چوپ شومه چې تورې مې بل نلرلو ي پسې**

**غزل**

**دا چې لېه کې مې څومره اساني ده**
**دغه ستا د يو نظر مهرباني ده**
**زه امکان د محبت توهين ګڼمه**
**ابتداء تر انتهاء پوري فاني ده**
**... يوه ورځ به دې تر دره پورې رسم**
**پلوشو کي مې د سترګو رواني ده**
**د ظلمت د هديرې په لور روان دي**
**که غرور دې که نر توب دې که ځواني ده**
**اوښکي پريده چي همداسې رابهيږي**
**باران ښه دی چې د ځمکي وداني ده**
**په ځواب کې ورته بله ډيوه مړه کړه**
**دا چې وايې مينه نه ده ناداني ده**

## غزل

دا چې لپه کې مې څومره اساني ده
دغه ستا د یو نظر مهرباني ده
زه امکان د محبت توهین ګڼمه
ابتداء تر انتهاء پوري فاني ده
... یوه ورځ به دې تر دره پورې رسم
پلوشو کي مې د سترګو رواني ده
د ظلمت د هدیرې په لور روان دي
که غرور دې که نر توب دې که ځواني ده
اوښکي پریده چي همداسې رابهیږي
باران ښه دی چې د ځمکي وداني ده
په ځواب کې ورته بله ډیوه مړه کړه
دا چې وایې مینه نه ده ناداني ده

## سترګې دواړه راسره وې

سترګې دواړه راسره وي ژړوم یې خندوم یې
کله شپه شي کله ورځ شي پټوم یې غړوم یې
کله رنګ ته مخامخ شي کله نور ته مخامخ شي
کله ستا د تورو زلفو کوه طور ته مخامخ شي
... کله ژبه شی د ښکلو ټول حالونه راته وایی
کله سیند پښې شی تورو غرونو او سیندونو ته مې بیایې
کله منډه کړی د ستورو ډک اسمان راته ښکاره کړي
کله راشي په هنداره کي خپل ځان راته ښکاره کړي
سترګې دواړه راسره وي ژړوم یې خندوم یې
کله ورځ شي کله شپه شي غړوم یې پټوم یې